ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کوونکے



# اليشع، د معجزو واله انسان

لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.

د یوې د پاره کافی غوایان نهٔ وو. د یو بل ضرورت وو.
خو دې خبرې یو ځوان زمیدار چې الیشع وو منع نهٔ کړو.
هغهٔ خپل ځان غوئی سره په جغ کښې
کړو، او چې کوم غوئے نهٔ وو نو د
هغهٔ په ځائ شو. هغه یو
مضبوط، هوښیار ا
و محنتی
سړے وو.





چې کله الیشع یوې کوله، نو د
خدائ پاک نبی الیاس هغهٔ له بلنه
ورکړه. ځوان سړی خپل پټے
پرېښودو او د خدائ پاک خادم
جوړېدو د پاره لاړو. یوه ورځ،
خدائ پاک الیاس په یوه ګاډۍ
کښې آسمان ته بوتلو.

اوس الیشع اسر
ائیل د پاره د
خدائ پاک نبی وو.



اليشع خفه وو، ځکه چې الياس ترې ل
اړو، هغهٔ دعا وکړو چې خداۍ پاک هغهٔ
له د الياس په شان طاقت ورکړی. اليشع د
الياس ځادر راواخستلو، او د الياس
په شان ئې د درياب روانو اوبو له
پرې ګزار ورکړو. اوبه
تقسيم شوې! اوس اليشع
ته معلومه شوه چې
خداۍ پاک هغهٔ سره
دے.



کله چې الیشع بیت ایل
نومې ښار ته روان وو، نو
ځنې هلکانو ورپورې ټوقې
وکړې او وې وئیل، د دې
ځائ نه لاړ شه ګنجیه. هغوئ
د دې هیڅ خیال ونهٔ ساتلو چې
الیشع د خدائ خادم وو. هغوئ
سره یو حېرانونکے کار وشو.
د ځنګل نه دوه مېلوګانې
راوتې او دوه څلوېښت
هلکان ئې ټوټې ټوټې کړل.

یوه ورځ الیشع یوې کونډې سره ملاقات وکړو چا له چې
پیسې ورکول وو خو هغې نۀ
شوې ورکولے. د هغې نه
د پیسو حاصلولو د پاره
قرضداری د هغه
کونډې دوه زمان
د غلامانو په طور
بوتلل. الیشع هغې ته
ووئیل، لاړه شه او د خپلو
ګاونډیانو نه لوښی راوړه چې
خالی وی. خدائ د هغه ښځې
د پاره یو ښۀ کار کولو.



د کونډې په کور کښې د
تیلو یوه وړه پیالۍ وه.
خو د هغه وړې پیالۍ نه
د کور ټول لوښی ډک
شول! کۀ په هغه ورځو
کښې د لامبلو ټاپونه وو،
نو ستاسو څۀ خیال دے
چې خدائ به هغه هم
ډک کړی وو؟ کونډې
تیل خرڅ کړل او خپل
زامن ئې بچ کړل.



يوې بلې ښځې او خاوند په خپل کور
کښې يوه خاص کوټه جوړه کړه چې کله
اليشع هلته نه تېرېدو نو هغوئ
سره به پاتې شی. هغوئ
په کوټه کښې
بستره، يو مېز،
يوه کرسی او
يو چراغدان کېښودو.
هغه کوټه ئې همېشه
د پاره د اليشع
په نوم ساتلې وه.



اليشع حېران وو چې ښځه د هغوئ شکریه ادا کولے شی. چې کله هغۀ ته معلومه شوه چې د هغوئ اولاد نشته، نو هغۀ ورته یوه حېرانوونکې خبره وکړه. ورته ئې وې وئیل، په راتلونکی کال کښې به هم په دې وخت ستا زوئ کیږی.

بالکل یو کال پس ماشوم پېدا شو.



يو څو کاله پس هم هغه ماشوم خپل پلار سره پټی کښې وو. هائ زما سر، هائ زما سر. هلک داسې چغې وهلې. چې کله ئې هلک د خپلې مور خواته راوستلو، نو هغه تر غرمې پورې د خپلې مور په غېږ کښې وو او بیا مړ شو. د هغهٔ مور هغه د الیشع په کوټه کښې څملولو. ستاسو په خیال چا ئې مدد کولے شو؟



تاسو اليشع يادوئ؟ بالكل ټيک ده! هغه په يوه خره سوره شوه او د هغۀ لټولو د پاره بنه تېزه لاړه. اليشع د هغې کور ته راغلو، يواځې پاس کوټې ته لاړو او دعا ئې وکړه. خدائ هلک واپس ژوندے کړو.



اليشع هغه ښځه راوبلله او وې وئيل، خپل زوئ اوچت کړه. هغه به ډېره خوشحاله وه.



په سامریه کښې نعمان نومې
یو سړے چې د لښکر مشر
وو اوسېدو. هغه تکړه او
مضبوط وو، خو هغهٔ ته یو
تکلیف وو، د ځرمنې بیماری
ئې وه چې ورته جزام وائی.

د نعمان د ښځې یوه وړه
جینۍ وینځه وه، چې د
اسرائیل نه د غلامۍ په طور
راوستلے شوې وه. هغې
جینۍ ووئیل، کهٔ نعمان هغه
نبی سره وو چې په اسرائیل
کښې دے، نو هغهٔ به ورله د
جزام نه شفا ورکړې وه.



نعمان سمدستی نبی سره ملاوېدو له روان شو. هغۀ سرۀ او سپین زر او ښکلې جامې د تحفې په طور واخستې.



د الیشع نوکر بهر راغلو او وې وئیل، لاړ شه او د اردن په



سپند کښې اووهٔ غوپې ووهه،
نو ستا وجود به ټیک شی او
پاک به شې. نعمان غصه
شو. ولې هغهٔ په سامریه
کښې په ښکلو صفا او
تازه سپندونو کښې نهٔ شو
لامبلے څهٔ؟ بدقسمتئ سره
هغه واپس د خپل کور
طرف ته روان شو.



نعمان ته د هغۀ نوکر ووې
چې د اليشع خبره ومنه. نو
نعمان لاندې لاړو او د
اردن په سپند کښې ئې
اووۀ غوپې ووهلې. او
نعمان جزامی ته شفا ملاو
شوه. بيا نعمان د رښتينی
خدائ، د اليشع د خدائ
عبادت وکړو، چا چې هغۀ له
د جزام نه شفا ورکړې وه.



خدائ خپل خادم الیشع د
مرګ نه پس هم استعمال کړو.
یوه ورځ، یو سړے په هغه غار
کښې ښخ کړے شو چرته چې
الیشع د ډېرې مودې نه ښخ وو. چې کله
د انسان لاش د نبی هډوکو سره ولګېدو،
نو هغه سړے ژوندے شو
او په خپلو پښو ودرېدو. په
حقیقت کښې خدائ خپل
طاقت د خپل وفادار خادم
الیشع په ذریعه ښکاره کړو.

# اليشع، د معجزو واله انسان

دَ خدایٔ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصۍ

شته دے

٢ بادشاهان ٢-٣١

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."

زبور 130:119

ختم شو

دا قيصئ مونږ ته زمونږ د حيرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پيدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپيژنو.

خدائ پوهيږی چې مونږ ډير غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وايې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډيره مينه کوې نو ځکه هغۀ خپل
يک يو زوئ راوليږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولئ خپل ځان قربان کړې.او بيا عيسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کۀ تۀ په عيسی باندې ايمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د هميشه د پاره ژوندے اوسيږی.

کۀ تۀ په دې ايمان لرې چې دا رښتيا دی نو خدائ ته ووايه.خوږه عيسی زۀ
ايمان لرم چې هم تۀ خدائ يې. تا زما د خاطره پيدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے يې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د هميشه د پاره تاسره يم.
زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ يا لور جوړه شم. آمين
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، يوحنا۳:۱۲